ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.5 No.2, 2022

# د ارزاني خويشکي زمند په شاعرۍ کښې د قرآني ايتونو کارونه : يوتحقيقي جاج

# Usage of Qur'anic Verses in Arzani khwaishki Zamand's Poetry: An Exploratory Review

**Miss. Laila Gul**
M.phil Scholar, Department of Pashto, UoM
**Dr. Badshah.i.Room,**
Associate Professor Department of Pashto, UoM
**Mr. Asif Imran,**
M.phil Scholar Department of Islamic Studies &Religious affairs, UoM

## ABSTRACT

*This article examines the poetic works of Arzani khawishki, the pioneering poet of the second era of Pashto poetry, who was a devoted adherent of the Roshaniya school of thought and a follower of Bayezid Ansari - Arzani's poetry, while deeply rooted in Sufi themes, also explores a range of other topics, showcasing his high level of artistic and intellectual excellence - Through his masterful use of various literary techniques, Arzani elevated the standard of Pashto poetry - Furthermore, his integration of Quranic verses into his poems not only enhances their scholarly depth but also reflects his profound knowledge of the Quran - This research focuses specifically on Arzani's poems that incorporate Quranic verses, providing an in-depth analysis of how these sacred texts are woven into his literary creations -*

**Keywords:** Arzani khaishki, Pashto, Pioneer, Poet, Poetic works, Sufi themes, Quranic verses -

ارزاني خويشکي زمند د پښتو شاعرۍ د دويمې دورې يو پرګو شاعر دے ۔ او هم دده نه د پښتو د باقاعده ديواني شاعرۍ سر انښلي ۔ د ارزاني نه وړاندې د پښتو شاعري په موجوده رنګ ، اهنګ او اوزانوکښې نه وه ، ده په وړومبي ځل دا زيارکښې وکړه او پښتو شعر ته ئې د موزونيت سره سره د فکري خواږه هم وبخښل ۔ تر کومې چې ارزاني د ژوند د زمانې تعلق دے نو څوک ئې د يولس سوه هجرۍ وړومبۍ لسيزه يادوي او څنې نور ئې د يولس سوه هجرۍ دريمه لسيزې پورې اوړدوي ۔ لکه د ډاکټر پرويز مهجور د ليکنې ترمخه

" د ارزاني خويشکي د زوکړې کال ۹۲۹ھ قياسولې شي ۔ دده ژوند د ۱۰۱۰ ھ پورې يقيني دے" ۱

خو د پروفېسر عبدالخالق رشيد د څېړنې ترمخه د هغه د وفات تاريخ ۱۰۲۸ھ دے"۔ لکه چې ليکي :

"د ارزاني د مړينې په حقله حالنامه هم څه نه وائي ۔د ارزاني د ديوان تر مخه د دۀ د ژوند آثار تر ۱۰۱۰ه/ ۱۴۰۱ عيسويپورې يقيني دي ۔ خو په کال ۲۰۰۲ کښې د بي بي سي (BBC) په اردو سروس کښې د عبدالخالق د يوې څېړنې او د نعيمه احمد مهجور د پېشکش تر مخه د هند د بهار صوبې په "پټنه" نومې ښار کښې د دۀ قبر او مشهور زيارت دے او د دغه په کتبه باندې د مړينې کال ۱۰۲۸ هـ ه ليک دے " ۲

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.5 No.2, 2022

ارزاني خويشکي د روښاني مکتب د شاعرانو سرخېل دے ۔ تر کومې چې دده د شاعرۍ ديوان نه وه کشف شوې نو د مرزا خان انصاري ديوان د پښتو وړومبے ديوان گڼلې شو ، خو کله چې د ارزاني خويشکي ديوان منظر عام ته راغلو نو دغه خيال باطل شو ۔ په دې حقله حافظ عبدالقدوس هاشمي ليکي

" تر اوسه په پښتو ادب کښې چې څه دي د هغې سلسله د ارزاني خويشکي د ديوان نه په وړاندې صرف روايات دي ۔ د بايزيد دا خليفه د پښتو ژبې يو ديوان هم لري چې نن ورځې ددې نه اول ليکلے شوے ديوان د پښتو به ادب کښې نه شي موندلے ۔" ۳

لوے څېړنکار دوست محمد خان کامل مومند د ارزاني خويشکي د فکروفن او شخصيت ځنې اړخونه داسې راښائي :

" د مستند تاريخ د معيار تر مخه ملا ارزاني خېشکي د عيسيٰ مشوانی نه پس د پښتو د ټولو نه زوړ معلوم شاعر دے۔ د هغه اکثر شعرونه د مذهبي او تصوفي موضوعاتو سره تعلق لري ۔ وحدت الوجود د افکارو مخصوصه موضوع ده ۔ هغه د بايزيد نزدې او پرجوشه مريد وه۔ ده د خپل پير د تعليماتو په خورولو دومره د قدر وړکردار ادا کولو چې د اخون درويزه د وينا مطابق ئې د خېرالبيان په ليکلو کښې د بايزيد سره مرسته کړې وه " ۴

دغه رنګ ډاکټر يار محمد مغموم د ارزاني خويشکي په حواله خپل نظر داسې وړاندې کوي ، ليکي

"ملا ارزانی خوښکي د بايزيد انصاري د صوفيانه فلسفې ډېر پرجوشه مبلغ وه ۔ دده مخالفينو هم دده د علميت او تېز ذهن اقرار کړې دے ۔ دده معاصرينو او دده د وفات نه پس راتلونکو شاعرانو، اديبانواو مورخينو دده ذکر کړې دے ۔ دے هغه وړومبے شاعر دے چې د بايزيد روښان فلسفه ئې په شعرونو کښې بيان کړې ده۔ دده د شاعرۍ اکثر موضوعات مذهبي او تصوفي دي ۔ د صوفيانه شاعرۍ ټول موضوعات ئې د وحدت الوجود په فلسفه مبني دي ۔ "۵

ښاغلے همېش خليل د ارزاني خويشکي د ادبي مقام سره سره د هغه علميت څه په داو ډول راڅرګنده کوي ۔ وائي :

"د ارزاني شاعري د بايزيد روښان د تصوفي مسلک ، عقائدو او تعليماتو ترجماني ده ۔ ارزاني پخپل دور د پښتو شاعرۍ د ټولونه لوے صوفي شاعر دے ۔ دده نه مخکښې تر اوسه د معلوماتو له مخه د بل کوم شاعر په شاعرۍ کښې دومره پختګي، سادګي ، مقصديت او جامعيت نه شي ليدې ۔ دده د شاعرۍ نه داسې برېښي چې په عربۍ فارسي کښې ئې هم لوے لاس وو۔ دده ټوله شاعري صوفيانه ده ، چۀ د تصوف د دائرې چاپېره چورلي ۔" ۶

د ارزاني خويشکې په حواله ځنې معلومات ډاکټر عبدالله جان عابد په لاندينيو کرښو کښې دغه رنګ راوړي دي ۔ ليکي :

ژباړه " د بايزيد انصاري افکارو ته چې چا په وړومبي ځل دشاعرۍ نمرې واچول هغه ملا ارزاني خويشکي وو ـ داد روښاني پاڅون وړومبې قابل ذکر شاعر دے ـ او د موجوده تحريري سندونو په رو سره د پښتو وړومبے صاحب ديوان شاعر دے ـ د بايزيد انصاري مريد وه، اوددې سره سره د افکارو او خيالاتو شارح او مفسر هم وه ـ دده د قبيلې او وطن په حقله د حالنامې مؤلف علي محمد مخلص ليکي چې د ارزاني تعلق د خوېشکي قبيلې سره وه او وطن ئې قصور وه ـ " ۷

استاد راج ولي شاه خټک د ياد شاعر په بابله رقم طراز دے:

"دروښاني د ادبي مکتب فکر په شاعرانو کښې مشر ارزاني دے ـ ارزاني يو عالم فاضل سړے وه ـ د پښتو ژبې پوخ شاعر وه ـ په ملا ارزاني هم مشهوروه ـ په دې چې په کلام کښې ئې وافره برخه د شرعي احکامو د بيان ده ـ ددې نه علاوه دسلوک او معرفت د رموز او اسرارو بيان هم کوي ـ " ۸

ددې پورته ټولو اقتباساتو په رڼا کښې مونږ په دې نتيجه رسو چې ارزاني خويشکي د بايزيد انصاري د تصوف د کاروان يو غښتلے غړے وه ، باعمله صوفي وه ، د تصوف د مقاماتو نه تېر شوې وه،د مسکنت په درجه فائز وه او بايزيد انصاري ورته خلافت بخښلې وه ـ دغه رنګ هغه د مذهبي پوهې په لړ کښې د قران ، احاديث او فقهي علوم درلودل ، په دې وجه ورته د ملا نامه هم اخستلې شوه ، هغه يو قادرالکلام شاعر وه ، او پخپله شاعرۍ کښې ئې دتصوف د باريکاتو نه علاوه د قران ، حديث علوم هم پکار راويستې دي ـ

ددهٔ په مونډلې شوي ديوان کښې د رباعياتو نه سربېره د قصائدو او غزلياتو يوه درنه پنګه موجود ده ـ چې پکښې د تصوف ، شريعت او طريقت نه علاوه دحسن و عشق او اخلاقياتو موضوعات رانغښتې شوي دي ـ اګرچې پوهان په دا اوان ارزاني خويشکي د خپل اسلوب ځانګړے او وړومبے شاعر ګڼي خو دده شاعري دومره پخه ، کوټلې او په فني لحاظ معياري ده چې د يو اوږد ادبي سفر ښاپونه ئې ارومرو په شا ښکاري ـ په هر طورمونږ چې دده شاعري لولو نو په دې نتيجه رسو ، چې دده د شاعرۍ په فن کلک او ټينګ لاس برے حاصل وه ـ او هم له دې امله ده په خپله شاعرۍ کښې هررنګه مضامين ، خيالات او د مذهبي علومو سره سم ګڼ شمېر موضوعات راخستې دي ـ چې دده په علميت او په خصوصي توګه دده په مذهبي مطالعې دلالت کوي ـ دې مقاله کښې هم د ارزاني خويشکي دهغه شاعرۍ جائزه اخستلې شي کومه چې شاعرۍ کښې چې د هغه د قراني اياتونو مفاهيم يا د اياتونو څه برخه راخستې ده او د خپلې شاعرۍ ارزښت ئې پرې سېوا کړې دے ـ ارزاني وائي

"بســـــــــم نــــــــوم ثنـــــــــا د ربـــــــــه
لــــــــــه مـــــــــولي نحـــــــن اقـــــــــربه"۹

په دې شعر کښې د نحن اقربه راوړول د قران پاک د سوره " ق " شپاړسم ايت ته اشاره ده ـ الله تعالي ' فرمائي چې :

وَ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَ نَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ -وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِیْدِ ١٠

ژباړه : او بې شکه مونږه بنيادم پيدا کړو او مونږ پوهېږو په هغه وسوسه چې نفس ئې ورته اچوي۔ او مونږ هغه د مرۍ د رګ نه هم زيات نزدې يو ـ دغه رنګ سوره اخلاص د قرآن پاک يو بل مبارک سورت دے چې د الله صفات پکښې ذکر شوې دي ـ ارزاني ئې داسې ذکر کوي ـ

" کــــــه د زرۀ ســـــترګې کـــــړې رونـــــــې
احــــــــد يــــــــو دے لـــــــه صــــــمده
د صـــــــــمد ثنـــــــــا ده شـــــــــوې
لــــــــم يلـــــــد ولـــــــم يولـــــده"١١

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (1) اَللّٰهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ یَلِدْ وَ لَمْ یُوْلَدْ (3) وَ لَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ (4)

ژباړه : اووايه ( اے پېغمبره ) چې هغه الله يودے ـ الله بې نيازه دے ـ نه دده نه څوک پيدا دي او نه دے له چا پيدا دے ـ او نه دده څوک سيال شته ـ

په يو بل شعر ارزاني خويشکي د قران پاک د " اولوالالباب " ټکي راوړي ـ وائي

"دا خبــــــــــره پټــــــــــه نـــــــــــۀ ده
لـــــــــه دانـــــــــا اولـــــــو الالبابــــــــه"١٣

د الواالالباب ټکي په قران کښې پنځلس ځايه استعمال شوي دي ـ چې د عقلمندو په معني' کښې راځي ـ عقل د کفارو سره هم وي خو دلته ترې هاغه عقلمند مراد دي چې چا ته الله د ايمان رڼا هم وربخښلې وي ـ ١۴

یُّؤْتِی الْحِكْمَةَ مَنْ یَّشَآءُ ۚ وَ مَنْ یُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِیَ خَیْرًا كَثِیْرًا ؕ وَ مَا یَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الْاَلْبَابِ()
١۵

ژباړه : الله چې چاته وغواړي نوهغه له پوهه ورکړي ـ او چې چا ته پوهه ورکړې شوه نو هغه ته لويه خوبي په لاس وراغله ـ او نصيحت هم هغه اخلي چې عقلمند وي ـ

"د الســـــــت وينــــــا چـــــــې وشـــــــوه
کــــــل تپــــــې شــــــوې د بـــــــل بپلـــــــې"١۶

په دغه شعر کښې ارزاني خويشکي د سوره اعراف لانديني ايت ته اشاره کړې ده ۔

وَاِذۡ اَخَذَ رَبُّكَ مِنۡ بَنِيۡۤ اٰدَمَ مِنۡ ظُهُوۡرِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَاَشۡهَدَهُمۡ عَلٰٓي اَنۡفُسِهِمۡ‌ۚ اَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡ‌ؕ
قَالُوۡا بَلٰي‌ۛ شَهِدۡنَا‌ۛ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنۡ هٰذَا غٰفِلِيۡنَۙ ۱۷

ژباړه : اوياد کړه هر کله چې ستا رب د ادم د ملا د ادم اولاد رااويست، او د هغوي نه ئې په خپل ځان پخپله ګواه کړل چې آيا زه ستاسو رب نه يم ؟ نو ټولو جواب ورکړو چې ولې نه ۔ مونږ ټول په دې ګواهان يو ۔ ( داسې نه) چې د قيامت په ورځ بيا واييئ چې مونږ خو بېخي ناخبره وو ۔

"هـــــم فرعـــــون کـــــا ســـــر کوزينـــــه
د موســـــــي' لـــــه يـــــــده بيضـــــــا"۱۸

په دغه شعر ارزاني خويشکي د يد بيضا ټکے راوړې دے ، چې د حضرت موسي' يوې معجزې ته اشاره لري ۔

" د يد پيضا ترکيب د عربۍ ژبې په دوه ټکو اړه لري ، يد او بيضا ، د يد معنيٰ لاس او د بيضا معنيٰ سپين او پړقېدنکې ده ۔ حضرت موسي ته په کوه طور د الله سره د خبرو کولو شرف حاصل شوې وه ۔ نبوت ورته ورکړې شوې وه او ددې سره ئې ورته دوه معجزې ورکړې شوې وې ۔ يوه د همصا وه ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ او بله د يد بيضا وه ۔ الله حضرت موسيٰ ته حکم وکړو چې خپل لاس د ګرېوان دننه يوسه، او ترخ ته ئې ورسوه ، نو دا به د ناروغۍ نه پاک ، بې داغه او پړقېدونکې په نظر راځي ۔ دا ستا دويمه نښاني ده ۔ هر کله چې موسي' ع لاس ترخ ته يوړو او رابهر ئې کړو نو هغه لکه د نمر روښانه شو او رڼاګانې ترې خورېدلې ۔ دست سفيد ،، دست کليم، دست موسي ددې تلميح نه جوړ مرکبات دي" ۱۹

چې د يد بيضا تذکره د قران په دې لانديني ايت کښې ئې تذکره راغلې ده۔

وَنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنّٰظِرِيۡنَ ۲۰

ژباړه : او هغه چې خپل لاس رااويست نو په هغه وخت په سپين ښکارېدو کتونکو ته

"ارزانـــــــي لـــــــه حـــــق راضـــــــي دے
مـــــــن الکـــــــاظمين الغيظـــــــه ۲۰

په زير نظر مقطع کښې ارزاني خويشکي د قران پاک د يو ايت مبارکه يادونه کړې ده ۔ چې الله پکښې د صبر او زغم تېرونکو بنيادمو ذکر کړې دے چې دوي خپله غصه ځښونکي ۔ دغه ايت په سوره العمران کښې داسې راغلې دے ۔

الّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّآءِ وَ الضَّرَّآءِ وَ الْكَظِمِينَ الْغَيظَ وَ الْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ-
وَ اللّهُ يحِبُ الْمُحْسِنِينَ ۲۲

ژباړه : هغه کسان چې په راحته او تنګلاسۍ کښې د الله په لار کښې مال خرچ کوي ۔ او غصه څښونکي او خلق معاف کوونکي دي او د نيکانو سره محبت کونکي دي ۔

"پــــــه قـــــــرآن کښـــــــې امـــــــر شـــــوے
څـــــو پـــــاک نـــــــۀ شـــــې لا يمســـــــه"۲۳

په دې شعر ارزاني خويشکي د قران پاک د مسح کولود هغه حکم تذکره کوي په کوم کښې چې الله پاک مؤمنانو ته امر کوي چې تاسو د ناپاکۍ په حالت کښې قران ته لاس مه لګوئ ۔ د الله دغه حکم په سوره واقعه کښې بيان شوې دے ۔ فرمائي

لايمسه إلا المطهرون ۲۴

ژباړه : نۀ شي مسح کولې دا مګر پاکان ۔

"ارزانـــــــــــي وينــــــــــا ده پتـــــــــــه
لـــــــــــه دې عامـــــــــــه کاالانعامـــــــــــه"۵۴

په دغه شعر کښې ارزاني خويشکي د سوره اعراف د يو ايت مضمون راوړې دے ۔ چې دا عام خلق د هغه انسان نما ځناورو په شان دي چې د الله د احکامونه غافله دي ۔ ارزاني وائي چې زما وينا ددغه عامو کاالانعامو نه پټه ده ، ځکه چې دوي سره د پوهې ځان نه پوهوي ۔ د قران ددغې ايت په مصداق ، الله فرمائي

"وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لاَّ يُبْصِرُونَ بِهَا
وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يَسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ "۲۶

ژباړه : او مونږ په پيريانو او انسانانو کښې ډېر د جهنم دپاره پيدا کړي دي ۔ د هغوي سره زړونه شته خوځان پرې نه پوهوي ۔ سترګې ورسره دي خو ليدل پرې نه کوي ۔ غوږونه لري خو اؤريدل پرې نه کوي ۔ دغه خلق د ځارو په رنګ دي بلکې د هغوي نه هم زيات شره سر دي ۔ هم دغه خلق دے چې په غفلت کښې پراته دي ۔

ارزانـــــــــي وې ګـــــــــوے بـــــــــه يوســـــــــي
چـــــــــې ففــــــــــرو الـــــــــــي الله دے ۲۷

ارزاني خويشکي به دې شعر کښې د سوره الذريات دې ايت پله اشاره کړې ده۔ اللّ تعالي' فرمائي ۔

فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ إِنِّي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۲۸

ترجمه : پس الله پله منډه کړئ ، بېشکه زه ستاسو دپاره د هغه له خوا ښکاره ويره وونکے يم ۔

دغه شان په يو بل شعر کښې د سوره بقره يو ايت داسې بيانوي ۔

يادفــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــايـنماتولوا

هـــــــــــــــم فـــــــــــــــــثم وجـــــــــــــــه الله دے ۲۹

په دغه شعر کښې ددې لاندينې ايت مبارک مفهوم راخستې شوې دے ۔

وَ لِلّٰهِ الۡمَشۡرِقُ وَ الۡمَغۡرِبُ‌ۚ فَاَيۡنَمَا تُوَلُّوۡا فَثَمَّ وَجۡهُ اللّٰهِ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيۡمٌ ۳۰

ژباړه : او مشرق او مغرب د الله دپاره دي ۔پس تاسو چې کوم طرف ته هم مخ ګرځوئ هم هلته به ستاسو دپاره د الله رحمت متوجه وي ۔ بې شکه الله باکه وسعت والا او خبردار دے ۔

ددې ايت مبارک د شان نزول په حقله وئيلې شي:

" چې يو ځل اصحاب رض د سفر په حالت کښې وو، د شپې په تياره کښې هغوي ته د قبلې پته ونه لګېده ، هر کس چې په کوم طرف ئې زړه اوبه وخښنلې هغه اړخ ته ئې مونځ وکړو ۔ سحر چې ئې په بارګاه رسالت کښې ددغې واقعې ذکر وکړو نو دا ايت نازل شو ۔ " ۳۱

ددې بره ځېړنيز بحث نه مونږ په دې نتيجه رسو، چې ارزاني خويشکي زمند مروجه اسلامي علوم حاصل کړي وو، او دده د نوم سره د ملا د ټکي د تړون نه دا خبره تصديق ته رسي ، چې هغه د مذهبي علومو استاد وه او درسا'' ئې دغه علوم لولول ۔ بيا ددې خبرې سپيناوے هم وشو چې ارزاني خويشکي د قران د تفسير علم هم درلود او په دغه اړه ئې پوهه لرله ، ځکه خو هغه پخپل کلام کښې د قراني ايتونو پکارونه ډېره برمحل کړې ده ۔ او خپلې شاعرئ ته ئې ددغه ايتونو د استعمال په برکت په هرلحاظ بې کچه وقعت اوارزښت بخښلې دے ۔ د قراني ايتونو دا پکارونه هغه په عمومي توګه تلميحا'' کړې ده ، ولې دهغه کلام ته ئې د لفظي ښکلا نه علاوه معنوي ښائست وربخښلې دے ۔ چې د لوستونکي په زړه او ذهن د فکر وفن د اغېز سره سره د اصلاح د مقصديت ژور اثرات هم پرېباسي ۔

## حوالې

۱: مهجور ، پرويز ، ډاکټر ، کليات ، ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، ۲۰۰۵ء ، مخونه ۵۹ او ۶۳

۲: هم دغه ، مخ ۶۳

۳: قاسمي ، عبدالقدوس ، حافظ ، مقدمه خېرالبيان ، پښتو اکېډمي پېښور ، ۱۹۸۸ء ، مخ ۳۷

۴:کامل ، دوست محمد خان ، پشتو ليټرېچر ډيورنګ ده مغل پيريډ ، ( پښتو ادب د مغلو په دوره کښې ) ورځپاڼه فرنټير پوسټ ، ( پېښور) ۱۷ اپرېل ۱۹۹۳ ء۔

۵: مغموم ، ډاکټر يار محمد ، پروفېسر، روښانيان او پښتو ادب ، پښتو اکيډيمي پېښور ، يونيورسټي ، ۲۰۱۱ء ، مخ ۴۴۷

۶: همېش خلیل ، د پښتو شعري ادب، پښتو اکېډیمي پېښور، یونیورستي ، ۲۰۰۸ء مخ ۴۰
۷: عابد، عبد الله جان ، ډاکټر ، پشتو ادب کي مختصر تاریخ ، یوني ورستي پبلیشرز، ۲۰۰۶ء مخ ۵۲
۸: خټک ، راج ولي شاه، ډاکټر ، پښتو کښې ادبي تحریکونه ، پښتو اکېډیمي پېښور، یونیورستي، ۱۹۸۹ء، مخ ۹۴
۹: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي، مخ ۲۶
۱۰: قرآن ، سوره ق ، ایت ۱۶
۱۱: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي مخ ۲۱۲
۱۲: سوره اخلاص، ایتونه ا، ۲، ۳، ۴
۱۳: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ،مخ ۲۶۰
۱۴:https://www.alfazlonline.org/27/01/2021/30726
۱۵: القران ، سورة البقره ایت نمبر ۲۶۹،
۱۶: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۶۳۰
۱۷: قران سوره اعراف ،ایت ۱۷۲
۱۸: د ارزاني خویشکي کلیات ، مخ ۲۳۹
۱۹:https://www.rekhta.org/allusions/yad-e-bayza?lang=ur:
۲۰: قران سوره اعراف ، ایت ۱۰۸
۲۱: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۲۳۹
۲۲: قران ، سوره العمران ،ایت ۱۳۴
۲۳: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۲۳۹
۲۴: قران ، سوره الواقعه ایت ۷۹
۲۵: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۳۱۲
۲۶: قران سوره الاعراف ایت ۱۷۹
۲۷: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۱۲۲
۲۸: قران ، الذریات ، ایت ۵۰
۲۹: د ارزاني خویشکي کلیات ، تدوین از ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، مخ ۱۲۲
۳۰: قران ، سوره البقره ایت ۱۱۵
۳۱: ترمذي، کتاب تفسیر القراٰن، باب ومن سورة البقرة، ۴ / ۴۴۵، الحدیث: ۲۹۶۸